مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک
۲۰۱۹/۰۳/۲۰

# دستارنامه

## (د پروفیسر ډاکتر یارمحمد مغموم خټک په زیار ـ ۲۰۰۵ع)

د دستارنامي ددغه چاپ د تحقیق، سموني او حاشیو لیکلو چاري ښاغلي **ډاکتر یارمحمد مغموم خټک سرته رسولي دي او** ناشر" ئي هم دی دئ. د کمپوز چاري ئي ارشاد خان بشپړي کړي دي او دده له نامه سره " پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسیټي" لیکل سوی دئ. له دغه نښلول سوي عبارت څخه ځوک پوهېدلای نه سي چي کمپوزر د کمپوز چاري د پښتو اکېډیمۍ په اراده سرته رسولي دي که څرنګه؟ د کتاب پر وقایه باندي ئي " یونیورسیټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور پختونخوا" کښلی دئ. د "پختونخوا" لیکنه د اردو ژبو غوښتنه ده. پښتنو لره دغه راز لیکنه مناسبه نه ښکاري.

ددغه چاپ په پیل کي د " خپلي خبري" تر نامه لاندي په اتلسو مخو کي یوه مفصله سریزه راغلي ده چي په هغې کي ئي د دستارنامي پر اهمیت، مندرجاتو او معلوماتو او دغه راز د خوشحال بابا پر نبوغ او عبقریت ، په دستارنامه کي د کارول سوي ژبي پر روانۍ او نورو ښېګنو ښي خوندوري خبري کړي دي. دغه راز ئي تر دغه چاپ ترمخه د دستارنامي نور چاپونه نقدکړي او د هغو نیمګړتیاوي ئي بیان کړي دي. ددې سریزي د وروستي مخ ( ر) له بیانه داسي ښکاري چي مصحح د متن په ایډیټ کي د مرحوم استاد قلندر مومند له همکارۍ څخه برخمن وو.

تر سریزي وروسته د دستارنامي متن پیل کېږي چي ټول مخونه ئي ۲۱۳ ته رسېدلي دي. تر متن وروسته په دوو مخونو کي د" کتابیات" لیست راغلی دئ او په هغه کي ئي هغه شپاړس کتابونه راوړي دي چي مصحح ددغه چاپ په برابرولو کي ګټه تري اخیستی ده. مصحح د حاشیو په لیکلو کي ښه پوره خواري کښلې ده .ددغه چاپ کاغذ اعلی نه دئ خو په ښو کاغذونو کي راخئ.

د سریزي په (ق) مخ کي ئي کښلي دي چي ددغه چاپ د برابرولو پر وخت ئي " ... د اصل چاپ دستارنامي نه علاوه د کابل چاپ دستارنامه، د پښتو اکېډیمی د دستارنامي قلمي نسخه، د خوشحال بابا تصنیفات ...." څخه استفاده کړي ده او دا ئي هم پر زیاته کړې ده چي له "اصل چاپ" څخه ئي مطلب " ادارهٔ اشاعت سرحد" له خوا چاپ سوی دستارنامه ده. له دغه چاپ څخه مراد د دستارنامي هغه متن دئ چي د مرحوم محمد عبدالشکور په زیار په ۱۹۵۲ع کال خپور سوي وو او ما (هوتک) پخپل همدې کتاب کي کره کتنه پر کړې ده. ښاغلي ډاکتر یارمحمد مغموم صاحب د خپلو خپرو په ترڅ کي کښلي دي چي " ... د خوشحال بابا ددې دومره لوئی اهمیت لرونکي کتاب تر ممکنه حده په صحیح شکل کښي چاپ کول د وخت اهم ضرورت دے -" رشتیا خبره همداده چي د دستارنامي د "صحیح شکل" چاپول یوه اکاډمیکه اړتیا ده، خو د " صحیح شکل" تعریف او تشریح باید روښانه سي چي له " صحیح شکل" څخه مرادڅه دئ؟ متنپوهني ددغي پوښتني جواب ورکړی دئ او هغه دا چي صحیح شکل هغه شکل دئ چي د متن د اصلي لیکوال له خوا لیکل سوي ښي ته تر ممکنه حده نژدې وي.زه په همدې کره کتنه کي د همدغه جواب له مخي پر دوو استقامتونو پر مخ ځم. لومړی ئي تخنیکي ملاحظات دي او دوهم ئي اصولي او تحقیقي.

په **تخنیکي برخه** کي ئي طباعتي تېروتني او نور دي ته ورته ملاحظات شامل دي . په دې ډول :

ـ ځای ځای، په تېره بیا د فارسي اشعارو په ټاپیولو کي توري نژدې لیکل سوي یا بې ضرورته لیري سوي دي چي پر لیکدودي سرغړونو برسېره ئي د معنا التباسونه هم پېښ کړي. د مثال په توګه :

په (۱مخ) دوهم بیت کي " عرش آفرید و لوح و قلم راونه فلک" کي (راونه) باید سره بېل سوي وای او ( را و نُه) لیکل سوي وای. دا بیتونه د خوشحال بابا خپل کلام دئ او ددغي مصرع مطلب دادئ چي حق تعالی عرش، لوح ، قلم او نهه افلاک پیدا کړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

په ځلرم بیت کې بیا توري بېځایه سره لیري سوي دي. " گنجینهٔ محبت و گنجینهٔ و داد" لیکل سوی دئ. په داسي کي چي (وِداد) یو ویی دئ او د محبت او دوستی معنا لري. په لغتنامهٔ دهخدا کي ئې ددغه لغت په مثالو کي د مثنوي معنوي دا بیت راوړی دئ :

کـارت ایـن بـوده ست از وقت وِلاد
صید مـــــــردم کردن از دامِ وِداد

په پنځم بیت کي ( آفریداو) باید سره بېل سوي وای او ( آفرید او) لیکل سوي وای.
په اووم بیت کي ( بوبکر) ته الف ور زیات سوی دئ او (ابوبکر) لیکل سوی دئ چي په بیت کي ئې د یوې هجا په زیاتولو سره وزن وران کړی دئ. خوشحال بابا په دې پوه وو چي د ( بوبکر) سمه لیکنه (ابوبکر) دئ خو دلته ئې د وزن سمېدو له اسیته او د شعري اړتیا په حکم (بوبکر) غوره گڼلی دئ.
په دوهم مخ کي ( یا بر و همچون زنان) باید (بِرو) لیکل سوی وای چي د(ولاړسه، لاړ سه) معنا لري. د (بر) او (و) ترمنځ فاصله لازمه نه وه.
په دې شعرکي یوه بله نیمگړتیا هم سته او هغه دا چي دا شعر اصلاً یو بیت ( دوه نیم بیتي) دئ خو دلته دوه بیته (ځلور نیم بیتي) ترې جوړ سوي دي. دا بیت د حکیم ابوالمجد بن آدم سنایي دئ او د نوموړي په قصایدو کي د یوه بیت په بڼه ثبت دئ. ښاغلي مصحح ته د کابل چاپ او د حاجي پردل خټک چاپونه دواړه پراته ول او په هغو دواړو کي د یوه بیت په بڼه ثبت دئ. زه نه پوهېږم چي د نیم بیتیو د سره بېلولو څخه ئې مراد څه دئ؟
دریم ټکی چي گوته ورته نیول کېږي، هغه په همزه لرونکي یاء (ئ)سره د ( آئ، بوئ، گوئ، میوئ) لیکنه ده. دا کلمات باید ( آی، بوی، گوی، میوی) لیکل سوي وای.په اردو کي به دا راز لیکنه روا وي خو په فارسي کلماتو کي کورټ ناروا بدعت دئ. د فارسي په هیڅ قاموس او فرهنگ کي د ( آی، بوی، گوی، میوی) کلمات په همزه لرونکي یاء سره لیکل سوي نه دي.دغه راز اردو ځېلي لیکنه د حاجي پردل خان خټک په چاپ کي هم راغلي ده چي په فارسي کلماتو کي بېځایه لاسوهنه ده.
د اردو لیکدود تر اغېزې لاندي د زیاترو عربي لغتونو تلفظ الیش سوی دئ. د پښتونخوا لیکوال اوپه هغو کي پروفیسر مغموم خټک صاحب ( غیرت، فیض، حیران، قیضه، غیبت،سیل، عیش، ...) د اردو ژبې تر اغېزې لاندي په اوږده ( مجهوله) یاء ( غېرت، فېض، حېران، قېضه، غېبت، سېل، عېش ، ...)لیکي. په داسي حال چي دا ټولي دخیلي کلمي دي او باید په اصلي بڼه ولیکل سي.
(غیرت) عربي لغت دئ او په ټولو مشهورو عربي قاموسونو کي (الغَیْرَة) ثبت دئ . په خیراللغات کي ئې اسم فاعل د (غَیْرَتِي) په بڼه کښلی دئ. د (غېرت) بڼه ئې اوږده سابقه نه لري. د خوشحال بابا په یوه مهم اثر کي ئې دا شان ثبت به دا معنا ولري چي خوشحال بابا هم همداسي تلفظ کاوه؟؟ او په دې ډول به په بابا پوري ناحقه تور لگولی وي.
(فیض) هم عربي کلمه ده چي معتبرو قاموسونو د(الفَیْض) په شکل ثبت کړی دئ. که د اردو ژبې په تقلید (فېض) ولیکو نو (فیاض) خو هم باید (فېاض) وکاږو. آیا دا شان لیکنه به ناروا تصرف نه وي؟
(حیران، قیضه، غیبت، عیش) په ټولو معتبرو عربي قاموسو کي په همدې بڼه ثبت سوي دي . د اوږدې یاء لیکنه ئې هیڅ استناد نه لري. د (سیل) کلمه خوشحال بابا د ( تماشه، تماشا) په معنا راوړې ده." ... یوه شپه په سیل د دریاب په بېړی کښېناست" ( ۱۶۷مخ). خو زموږ مصحح د اردو ژبې تر اغېزې لاندي " ... سېل د دریاب ...." کښلی دئ چي دلته (سېل) د سېلاب معنا لري او د خوشحال بابا مراد ( سېلاب) نه دئ، بلکي مطلب ئې ( سیل و تماشه) ده.
دغه راز د ( عیب، غیب،بیت،خیر، خیرات،...) کلمي هم ( عېب، غېب، بېت، خېر، خېرات، ...) په بڼه راوړل سوي دي چي له خوشحال بابا څخه ددغو عربي کلماتو په تلفظ کي هیڅکله هم دا شان هیله نسي کېدلای.
په اردو ژبه کي ( مَحفِل) د ( مِحفِل) په شکل، (مَحبوب) د (مِحبوب) په شکل، (مَحمود) د (مِحمود) په شکل وایي او لیکي یې. پښتانه ئې هم له بده مرغه کاپي کوي او زما اندېښنه داده چي دا ډول ناسم تلفظونه د ډېورنډ په اغزي لرونکي دېوال نه ایساربږي او دې بلې غاړي ته هم راواوړي او را اوښتي هم دي. دلته هم اوس (هیواد) ویی د (هېواد) په بڼه رواج موندلی دئ!
په ۴ مخ کي " ... چي بلد (نور) اصحاب (رض) دې هم د جنگ پهٔ ورځ دا روش واخلي". په دغه جمله کي (بلد) په کابل چاپ او د حاجي پردل خان په چاپ (بله) دئ. نه پوهېږم چي مصحح چیرته د (بلد) معنا (نور) موندلې ده؟ زه یقین ته په نږدې گومان ویلای سم چي دا کلمه (بله) د پښتو د لویدیځي لهجې (بالا) ده چي د (نور) په معنا کارېږي او زموږ ځینو ناخبروڅېړونکو ته ئې د ملنډو او ریشخند وسیله گرځېدلې ده. د لویدیځي لهجې (بالا = نور) د دري - فارسي ژبې له ( بالا = لوړ) سره تر شکلي ورته والي په هاخوا بله اړیکه نه لري.او خوشحال خان هم په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

همدې (نور) معنا کار کړې ده. ښاغلي مغموم خټک چي د (نور) ویی ورته کښلی دئ، بالکل دقیق معادل دئ خو د (بلد) پر ځای ئې (بله = بالا) باید ثبت کړی وای.
په ۱۱مخ کي " ... د ټوکي، درخت وقوف ئې نهٔ وي ...." په دغه عبارت کي (درخت) باید ( د رخت) لیکل سوی وای. که (د) او (رخت) نژدې ولیکل سي له (درخت = ونه) سره ئې التباس منځ ته راځي.
په ۱۳مخ قطعه کي " ناپوهي ده اهمه" باید ( ناپوهي ده دا همه) وي. په نورو چاپو کي همداسي ده.
په (۱۵مخ) کي " ... فرزند پرور دوي" کي باید(پرور) او (دوي) یو ځای لیکل سوی وای. (پروردوي) یعني لویوي يې.
په ۱۷مخ فارسي بیت" گربه ببندد چنانکه نکشاید" کي باید د سر توري (گر ببندد) لیکل سوي وای. که (گربه) او (ببندد) لیري سره وکښل سي، معنا ئې اوړي. (گربه) د ( پیشو) معنا ورکوي.
په ۱۸مخ فارسي مصرع کي " ... بپر هیز" باید د (بپرهیز) په شکل نژدې سره لیکل سوي وای.
په ۳۱مخ کي" شهر هری گذارد و قانع بتون شود" کي که (بتون) کلمه د (به تون) په شکل لیکل سوې وای، ښه به وو. (تون) د حمام د اور د بلېدو ځای ته وایي. دا کلمه په نورو چاپونو کي (بتون) لیکل سوې ده او ما(هوتک) هم پخپل کتاب (په د ستارنامه کي فارسي کلام د چادئ؟) په همدې ښه اخیستې ده چي باید سمه سي.
په همدې ۳۱مخ " بهرهٔ کاغذ از ورو سیهی است" کي (ورو) هیڅ معنا نه لري. باید د" بهرهٔ کاغذ ازو روسیهی است" په شکل لیکل سوی وای.
په ۱۱۳ مخ کي " خانه وادهٔ" باید (خانواده) ولیکل سي. د کورنۍ په معنا.
دغه راز مثالونه نور هم ډېر دي.

## د کتابت تېروتني:

په ۷مخ کي (خالید) باید (خالد) وي.
په ۸مخ کي (لبسالت) باید (بسالت) وي . بسالت د زړه ورتیا او شجاعت معنا لري.
په ۱۸مخ کي " ... نامرد نسناس" باید (نامرد نشناس) وای. په کابل چاپ کي ئې هم (نسناس) ثبت کړی دئ چي تېروتنه ده. د حاجي پردل خان چاپ بیا سم لیکلی دئ.
په ۲۰مخ کي " حضر علیه السلام" د کتابت تېروتنه ده. خضر علیه السلام ئې سم شکل دئ.
په ۲۱مخ کي د حاشیې له پاره عدد (۴) لیکل سوی دئ، خو حاشیه نسته.
په ۳۶مخ " هر که سخن را بسخن صنم کند" کي د (صنم) پرځای (ضم) سهي دئ. دا بیت د عبدی گنابادی دئ.
په ۳۸ مخ " ... نرمه لینده بویه خاک تود وته دې نژدې ...." کي د (تود) او (وته) تر منځ لیریوالي ورانی پېښ کړی دئ. باید ( خاک تودو ته) لیکل سوی وای. (خاک توده)= د خاورو کوټه . په ۳۹مخ کې بیا سمه لیکلې ده.
په ۳۹ مخ کي ( سفائیدې) د کتابت تېروتنه ده. مراد ئې (فایدې) دي. د همدې مخ په فارسي بیت " کار هر بافتدهٔ حلاج نیست" کي (بافتدهٔ) د کاتب سهوه ده. باید (بافندهٔ) ولیکل سي.
په ۴۰مخ کي " ... زو دخوار" باید ( زود خوار)، " ... گهی د مار" باید (گهی دمار) ولیکل سي.
په ۴۲مخ کي" سور بَه" باید (سور بِه) ولیکل سي. له (بِه) څخه مراد (ښه) دئ. په ۴۴مخ کي هم (بهتر) د " بَه تر" په شکل لیکل سوی دئ چي ناسمه لیکنه ده.
په ۴۵مخ کي " عزځهٔ" باید ( غرځهٔ) وي. دا تېروتنه په ۴۶مخ او ۴۷ مخ کي درې واره تکرار سوې ده.
په ۴۷مخ کي " ... وزنهٔ غلطیږي" باید ( ور نه غلطیږي) وي. پ حاجي پردل خان چاپ کي هم همدا تېروتنه سته . په کابل چاپ کي ئې خبره بالکل ورانه کړې ده او "وژنه" ئې کښلی دئ؟
په ۴۹مخ کي " ... شب بې داري" که ( شب بیداري) ولیکل سي ، ښه به وي.
په ۵۹ مخ کي " ... ورځې پېښې ..." باید ( ورځې شپې) وي.
په ۶۵مخ کي " باد گری تجربه ...." باید ( با دگری تجربه ....) سي.
په ۶۶ مخ کي " .... احوال هم پهٔ داو تیره" باید ( ... احوال پهٔ دا وتیره) سي.
په ۷۱ مخ کي " کشن" د کتابت تېروتنه ده. ( کشتن) ئې سم دئ.
په ۷۳ مخ کي " په عید شمالی دی" هم د کاتب تېروتنه ده . (په عید شمارلی دی) ئې سم دئ.
په ۷۷مخ کي " ل۳۰، الف ۱" باید سي. په متن کي تر الف وروسته (۱) له ټایپه پاته سوی دئ.
په همدې مخ کي وروستی فارسی بیت هم د کتابت ورانی لري او د (بیست) پر ځای (بیت) لیکل سوی دئ.
په ۸۰مخ کي د (خپل) پر ځای (حپل) او د (غدره) پر ځای (عذره) لیکل سوی دئ چي دا هم د ټایپیسټ تېروتنه ده.
په ۱۱۸ مخ کي " کورتې" د ټایپیسټ تېروتنه ده. (عورتې) باید وي.
په ۱۲۱ مخ کي " قدید کا" د ټایپ غلطي ده. باید ( قید کا) وي.
په ۱۲۲ مخ کي " زمیمه" باید (ذمیمه) ولیکل سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۳۸ مخ کي " از زوئي طرب" باید ( از روی طرب) ولیکل سي.
د کتابت تېروتني نوري هم زیاتي دي. د ټولو راوړل زما کره کتنه ډېره اوږدوي. کنه، یادښتونه مي لا په پېخر پاته دي.

## اصولي او تحقیقي ملاحظات:

په دریم مخ کي " ... دستار د هغه په سر کېږدي". په کابل چاپ او د حاجي پردل خان خټک په چاپ کي " ... د هغه په سر کښېږدي" ثبت دئ. مصحح ته په کار وه چي ده هم یا " د هغه په سرکښېږدي" لیکلی وای، یا ئي په حاشیه کي ددغو نورو چاپونو ثبت ته اشاره کړې وای. تر کومه ځایه چي ماته معلومه ده د ختکو په لهجه کي( کېږدي) نسته. عموماً ئي د (کشېږدي) په بڼه تلفظ کوي که مصحح دختکو تلفظ په پام کي نیولی وي، نو بیا د (ش) حذف ته څه دلیل وړاندي کېدلای سي. له بله طرفه ئي په همدې مخ کي (کښېني) له (ښ) سره یو ځای لیکلی دئ. دغه راز ئي په ۴۴مخ کي (کښېوزي)، په ۴۹ مخ (کښېباسي)، په ۵۱مخ کي (کښېنولی) تول له (ښ) سره مل کښلي دي. خو (کښی) ئي بیا په ۴۹مخ کي (کشي)، (ښوروي) ئي په ۲۲مخ کي (شوروي)، (ښورېږي) ئي په ۱۵مخ کي (شورېږي)لیکلی دئ.په ۳۲مخ کي ئي په یوه کرښه کي (ښهٔ) او په ورپسي کرښه کي ( شهٔ) کښلی دئ.د لیکدود دغه شان نامتجانستوب د متن په نیمګړتیا کي راځي.
په ۱۵مخ کي " بیا یوه قطره مني بې نمازه بدرنګي اوبهٔ ..." عبارت کي په ( بې نمازه) لغت باندي مصحح پوه سوی نه دئ او په حاشیه کي ئي ورته کښلي دي " بې نمازه د محل مطابق معني نهٔ ورکوي". باید عرض کړم چي (بې نمازه) د (ناپاک) په معنا د کندهار په لهجه کي هم سته او په محاوره کي کارېږي. ( جامه مي بې نمازه ده) یعني ناپاکه ده، لمونځ ورسره روا نه دئ. دا لغت په خیراللغات ، لغات افغاني، ظفراللغات، ... کي د(بلماز) په بڼه ثبت دئ چي پر نورو معناوو برسېره ئي ( پلیت، ناپاک، نجس) معناوي هم ورته کښلي دي. په خیراللغات (۳۷مخ)کي ئي د( بیلماز) په بڼه هم په عین معنا راوړی دئ.
په ۵۳مخ کي یو ځای سپېږمي لیکي او سېږمي په قوسینو کي ورسره راوړي.څلور کرښي وروسته بیا سږمو لیکي او سپېږمو په قوسینو کي ورسره راوړي. لوستونکی نه پوهېږي چي د خوشحال بابا وینګ به ئي کوم شکل وو؟
په ۶۴مخ کي (ښاغلی) او (شاغلی) دواړه لیکي. لوستونکی نه پوهېږي چي کوم شکل ئي په خوشحال بابا اړه لري؟
په ۶۶مخ کي ئي" کجیم" ته په حاشیه کي کښلي دي "چاپ دستارنامه کښي کېجم دی". مصحح ددغه لغت د سم شکل معلوملو تکلیف پر ځان نه دئ منلی. باید تحقیق کړی ئي وای چي کوم شکل ئي سم دئ. (کیجم) هغي نیمڅی (کراستي) ته وایي چي د آس تر زین لاندي اچوي. په ۷۱مخ کي ئي سم شکل " کېجمونو" کښلی دئ . په حاجي پردل خان چاپ کي هم همدا دوه رازه ثبت (کجیم) او (کیجمونو) سته .نامتجانس ثبت پر متنپوه باندي د نه دقت کولو پېره اچوي. په کابل چاپ کي ئي یو شکل (کېجم) لیکلی دئ.
په ۷۴ مخ کي " ډاډ د مردانګۍ دې ورکا" په نورو چاپونو کي هم ( ډاډ د مردانګۍ) ثبت دئ. خو ماته (داد د مردانګۍ) سم ایسي چي د مېړاني او شجاعت ښوولو په معنا کارېږي. خوشحال بابا د فارسي اصطلاحاتو له کارولو سره ستونزه نه درلوده . په فارسي جنګنامو او د جنګونو په تاریخو کي (داد مردانګی) اصلاح ډېره کار سوې ده. او خوشحال بابا چي ددغو آثارو پراخه مطالعه لرله، ځکه ئي هماغه اصطلاح کار کړې ده.
په ۸۲مخ کي "زخیره" او " ذخیره" دواړه لیکي چي "ذخیره" ئي سمه بڼه ده.
په ۸۹ مخ کي " سر په دنیا" ته په حاشیه کي لیکل سوي دي" پهٔ معني ئي پوهٔ نهٔ شوم". (سر په دنیا) یعني ( په دنیا کي)، ( دمځکي پر مخ)، (په ټوله دنیا کي)، ( سر پر مځکه) .
په ۹۷ مخ کي " ګستاخه قریبه په شرم شریکه" ته ئي په حاشیه کي کښلي دي " ... څه مطلب نه واضحوي". دا یوه وراشه یا متل غوندي جمله ده. (قریبه) دلته د ( خپلوانو) په معنا ده. خوشحال بابا وایي چي که دي په هغو صفتونو چي ده بیان کړي دي، عورته ونه موندله، نو بیا په خپلوانو کي وګوره او داسي ښځه پیدا کړه چي خپله دي وي او په شرم درسره شریکه وي.
په ۱۱۲ مخ کي" ... دا ځائي د مور کار دی چي دا خلیفه ورته ښئ". خلیفه ته ئي په حاشیه کي کښلي دي" ددې تکي دلته پهٔ استعمال پوهـ نهٔ شوم". ( خلیفه) رشتیاهم د کتابت تېروتنه ده. خوشحال بابا د نجلی تربیه او روزنه ( حُلیه) یعني زېور و ګېڼه ګڼي . دی وایي چي مور باید خپله لورته دغه کمال (حلیه) په جلوالي (نجلتوب) ور وښیي. تر دغي جملي پنځه کرښي وروسته ئي د دین صلاحیت او زده کړه هم (حلیه) بللي ده. دی لیکي چي لور دي" ... د دین د صلاحیت په حلیه متحلي وي و هسي سري ته دې ورکولي شي".نو د (خلیفه) کلمه د کاتب غلطي ده او پر ځای ئي باید (حلیه) ولیکل سي.
په ۲۱۳مخ کي د دستارنامي د لیکلو تاریخي ماده ئي " وایم دا بس دی محنت د بېلتانه" ګڼلی ده او په حاشیه کي ئي ۱۰۷۶هـ ورته کښلي دي. که د دستارنامي د لیکلو کال رشتیا هم دغه (۱۰۷۶هـ) وي، نو په تاریخي ماده کي ( وایم دا) شامل نه دي او " بس دی محنت د بېلتانه" ابجدي قیمت پورتنی عدد پوره کوي. ټوله مصرع باید په قوسینو کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

نیول سوې نه وای. حاجي پردل خان خټک تاريخي ماده سمه راښوولې ده او (وايم دا) ئې تر قوسينو دباندي راوړی دئ.
ددې چاپ تر ټولو غټه نيمګړتيا داده چي فرهنګ ( ويي پانګه) نه لري. ښاغلي مصحح له وينا داسي ښکاري چي د دستارنامې د فرهنګ ليکلو اراده ئې کړې ده او ممکن د بېل کتاب په بڼه ئې چاپ کړي. دا کار خو ګټور کار دئ، مګر د متنپوهني اصل دادئ چي ويي پانګه بايد له متن سره مل وي او لوستونکی بايد مجبور نه سي چي د لغاتو د معنا له پاره بايد نورو منابعو ته مراجعه وکاندي.
ما(هوتک) ددغه  چاپ له متن څخه نور ډېر يادا ښتونه هم اخيستي دي، خو د ټولو راوړل د لوستونکو د ستړيا سبب کېږي او لاس به تر واړوم.
لکه ښاغلي مغموم خټک صاحب چي د خپلو خبرو په (ق) مخ کي هم اشاره ورته کړې ده، د دستارنامې " تر ممکنه حده په صحيح شکل کښې چاپ کول د وخت اهم ضرورت دی"، او ددغه چاپ په شايع کولو سره دا ضرورت رفع سوی نه دئ او د متنپوهني پر اصولو باندي د دستارنامې د بيا ترتيبولو ذمه واري د محققينو پر اوږو پرته پاته ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ